# د Centrelink اداري او کور مصاحبې



We speak your language ☎ 13 1202

*Centrelink Office and Home Interviews* - **Pushto**

Centrelink د آسترالیا ټولنې ته د آسترالیا د حکومت د یو شمیر وزارتونو په وکالت مرستې او خدمتونه برابروي.

ددې لپاره چې ډاډه شو چې مراجعینو ته په صحیح توګه مرستې ورکړ شوي دي Centrelink د مراجعینو په هکله باید معلومات ولري. مرکه د معلوماتو د راغونډولو یوه لاره ده.

## په مرکه کې ستاسو حقوق

کله چې مرکه (مصاحبه) پیل شي د Centrelink کارکونکې به د مرکې دلیل تشریح کړي.

که په پوښتنه پوه نشوې یا ولې د Centrelink کارکونکې تاسو نه پوښتنه کوي، کولاې شئ د هغه نه توضیح وغواړئ. که پوښتنه د مرستو په اړوند نوي ځواب یې مه ورکوئ.

که داسې فکر درته راشي چې ستاسو د وینا نه ستاسو په خلاف یو حقوقي یا قانوني عمل اجرا کیږي، کولاې شئ د ځواب ورکولو نه ډډه وکړئ.

## په مصاحبه کې ستاسو مکلفیتونه

- که مصاحبه کي ګډون نشئ کولاې موږ ته یې وواياست.
- هغه معلومات چې د مصاحبې پورې اړه لري د ځان سره یې ولرئ.
- بایدژر ترژه د هغو بدلولونونه چې ستاسو په حالت کې رامنځ ته کیږي موږ ته خبر راکړئ دمثال په توګه، که پته مو بدله شوې وي، په کار یا لوست مو پیل کړې وي، ستاسو په عاید کې بدلون راغلې اوسي، یا بهر ته په سفر ځئ.

دا مهمه ده چې سم ځوابونه وواياست ځکه چې Centrelink که ځان سره هغه ضروري معلوماتو چې ستاسو په مورد د هغه لرلوته اړتیا لري ونلري نشي کولاې مرستې تاسو ته درکړي .

د هر هغه فورمې یا بیان چې تاسو یې دستخطوئ یا د هرې یوې مرکې یا مصاحبې چې تاسو یې د Centrelink دکارکونکي سره کوئ یونقل یا کاپی وغواړئ.

## د کور لیدنې

کله کله د Centrelink؛ کارکونکي غواړي ستاسو سره ستاسو په کور کې لیدنه وکړي. دا په دې ځالاتو کې کیداې شي چې:

- که تاسو ناروغه یا معیوبه ا وسئ،
- که تاسو د دفترته دورتګ له امله ستونځه لرئ او په کورکې د کتنې غوښتنه کړې وي،
- یا دمرستو دپوره اوسمې اندازې دورکړې نه د ځان باوري کولو لپاره دمرستودبیا غورغوښتنه کوئ، **یا**
- یا دا چې فکر کوئ تاسو ته په پوره اندازه مرستې ندي درکړاې شوي.

د Centrelink د کارکونکې باید خپل د پیژندنې کارت ستاسې کورته دراتګ سره سم وښایي او تل یې په غاړه کې ځوړندوي. د پیژندنې کارد کې دکارکونکي عکس او دهغه مکمل نوم شته. د Centrelink کارکونکې نشي کولاي پرته ستاسو د اجازې نه ستاسو کورته راشي. تاسو هر وخت کولاې شئ د هغه نه د وتلو غوښتنه وکړئ.

که انګریزي ژبه ستاسو اصلي ژبه نوي د Centrelink د کارکونکي نه د مرکې په وخت کې د ترجمان د مرستې غوښتنه وکړئ. دغه خدمت وړیا دې.

په نورو ژبو کې غیر دانګلیسي ژبې د زیاتو معلوماتو لپاره ***13 1202** ته زنګ ووهئ.

زموږ ویب سایت ته په **www.centrelink.gov.au** کې لاړ شئ.

** 13 نمبر تلیفون مخابره د آسترالیا د هر ځاې نه چې و ي 25 سنته تمامیږي. 1800 نمبر تلیفون ته زنګ وهل وړیا ده.د تلیفون د عامه غرفو او موبایل نه یو څه زیات مصرف ولري.*

www.centrelink.gov.au

Australian Government | Centrelink giving you options